هفته واره رساله

# د بُزُرګانِ دِین 40 اقوال

(پښتو)

د امیرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په مبارک قلم لیکلې ګلدسته



مزار مبارک حسن بصري رحمة الله عليه



مزار مبارک حضرت بشر حافي رحمة الله عليه



مزار مبارک سیّد احمد کبیر رفاعي رحمة الله عليه



مزار مبارک شیخ عبدالحق محدث دهلوي رحمة الله عليه



ترجمه

TRANSLATION DEPARTMENT (DAWAT-E-ISLAMI)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د بزرګانِ دِين 40 اقوال

**دُعائے امیرِ اهلِسُنَّت:** یا الله پاکه! څوک چې دا رساله " د بزرګانِ دِين 40 اقوال " ولولي یا واوري، د هغهٔ د اولیائے کرامو رښتونے محبت نصیب کړې او هغهٔ سره د موره او پلاره يې بے حسابه اوبخښې-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## وړومبے دا ولولئ

اولیائے کرام او صوفیائے کرام (رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم) د الله پاک ډېر مقبول بندګان دي- الله پاک دوئي ته عِلم لَدُنّی (یعني د خپل طرف نه بغير د کتابونو د لوستلو عِلم) عطا کوي- پهٔ عقیدت او ادب سره د دوئي پهٔ صحبت کښې ناست ګس بدبخته نه پاتي کیږي بلکې د دې هستیانو د ګرم نظر پهٔ لړ سعت کښې "ګنهګار" د سُنَّتو پهٔ لار باندې روانوي- اولیائے کرام رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم د نصیحت نه ډکو خپلو نصیحتونو او د سُنَّتو د ډک کردار سره د نیکۍ دعوت ورکوي او خلق الله پاک ته نزدې کوي- پهٔ دې مختصر کتاب کښې د الله والؤ مختلف 40 اقوال راجمع کړے شوي دي او دا 40 اقوال یو "الله والا" باني دعوتِ اِسلامي، حضرت علّامه مولانا محمد الیاس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه لیکلي دي- د الـمدینة الـعِلمیه (اِسلام ریسرچ سینټر) شعبه "**هفته وار رساله مطالعه**" پهٔ مختلفو

موقعو باندې د امیرِ اهلِسُنَّت پهٔ قلم لیکلے شوي دا د بزرګانِ دِين اقوالو له ترتیب ورکوي او د یو کتاب پهٔ شکل کښې یـې پیش کوي- پهٔ اکثرو ځایونو کښې د قول پهٔ مناسبت سره د هُغه بزرګ مختصر شان سیرت هم بیان کړے شوے دے د پاره د دې چې لوستونکے هُغه بزرګ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وپیژني- د نورو معلوماتو د پاره پهٔ هره صفحه باندې د هُغه بزرګ د سیرت یا د هغوئي د فرمان پهٔ مناسبت سره د یو کتاب QR کوډ هم ورکړے شوے دے- الله پاک دې پهٔ دې کتاب باندې د کار کوونکو کوششونه قبول کړي او د هغوئي د پاره دې بے حسابه د بخښنې ذریعه جوړه کړي- الله پاک دې امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُہُمُ الْعَالِيَه ته د خیر سره ډېر عمر عطا کړي او د هغوئي سورے دې پهٔ خیر او عافیت باندې زمونږه پهٔ سرونو باندې سلامت لري-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

طالبِ غمِ مدینه وبقیع و بے حساب مغفرت

ابو محمد طاهر عطاري مَدَني عفي عنه

## ذِلّت او غم

د حضرت لقمانِ حکیم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمان مبارک دے: ”اے زما زویه! د قرض نه ځان ساته ځکه چې دا د ورځې ذِلّت او د شپې غم دے-“ (تفسير دُرِمنثور، 520/6)

حضرت لقمان حکیم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د الله پاک ولي دے، د هغوئي عمر زر [1000] کاله وو- د حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَام نه مخکښې هغوئي د ”بني اسرائيلو“ مفتي وو- چې کله حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَام ته د نبوت منصب عطا کړے شو نو هغوئي فتوې ورکول پریښودل- حضرت لقمانِ حکیم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د څلور زره انبيائے کرامو عليهِمُ السَّلام په خدمت کښې حاضري کړې ده- (عجائب القرآن، ص: 358) د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## خاموشي ښه عادت

حضرت کعبُ الاَحبار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ”کمې خبرې کول لوئي حکمت دے ځکه خاموشي اِختيار کړئ چې دا ښه عادت دے، د دې سره بوج سپکيږي او په ګناهونو کښې کمے راځي-“ (موسوعه ابن ابی الدنيا، 223/5، رقم: 107)

حضرت کعب الاَحبار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د اِسلام قبلولو نه مخکښې د

يهوديانو لوئي عالِم وو، هغوئي د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ زمانه کښې وو خو د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پۀ خلافت کښې يې ايمان راوړلو- د مسلمانانو د دريم خليفه، حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پۀ خلافت کښې پۀ 32 هجرۍ کښې هغوئي پۀ حِمص (شام) کښې رِحلت وفرمائيلو او هم هلته د هغوئي مزار شريف دے- (مرآۃ المناجيح، 282/8) د الله رَبُّ العزّت دې پۀ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پۀ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

د خاموشۍ د نورو فضائلو نه د څان خبرولو د پاره د امیرِ اهلِسُنَّت رساله ”خاموش شهزاده“ سکين کړئ-

د مرګ پۀ باره کښې د نورو معلوماتو د پاره دا QR کوډ سکين کړئ-

## د دُنيا مصيبتونه

تابعي بزرګ حضرت سيدنا کعب الاحبار رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: څوک چې مرګ وپيژني پۀ هغۀ باندې د دُنيا مصيبتونه او غمونه سپک شي-“ (احياء العلوم، 194/5)

## د عالمانو پۀ بادشاهانو باندې حکومت

حضرت ابُو اَسَود رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: ”د عِلم نه زيات د عزت والا بَل هيڅ خيز نشته، بادشاه پۀ خلقو باندې حکومت کوي خو عالمان پۀ

بادشاهانو باندې حکومت کوي-" (احياء العلوم، 22/1)

حضرت ابو اَسوَد دُؤلي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه عظيم تابعي بزرګ دے- د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ چې کله په عربۍ ژبه کښې غلطياني ونيولې نو د اصلاح د پاره يې بنيادي قاعدے جوړې کړې او حضرت ابو الاسود دؤلي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ته يې د کلمے د دريو واړو قِسمونو "اِسم، فعل، حرف" تعريفونه وليکل او ورکړل او په دې کښې يې د اضافې کولو ووئيل بيا يې د هغوئې د اضافو اِصلاح هم وفرمائيله- (تاريخ الخلفاء، ص 143)

د عِلم او د عالمانو فضائل او د نورو ډيرو ګټه ورو معلوماتو د پاره دا QR کوډ سکين کړئ-

## عاجزي کولو والا بزرګ

حضرت حَسَن بَصري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ډير د عاجزۍ کولو والا بزرګ وو، هر څوک به يې د ځان نه بهتر ګڼلو، يو ځل يې وفرمائيل: که د عذاب نه مې نجات حاصل کړو نو زۀ بهتر ګڼې نو سپے زما په شان د سوونو ګنهګارانو نه بهتر دے- (تذکرة الاولياء، ص 43، حصه: اول)

عظيم تابعي بزرګ حضرت حسن بصري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په مدينه منوره کښې د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ په خلافت کښې دنيا ته تشريف راوړلو، د مسلمانانو دويم خليفه، حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ هغوئې له ګُټي ورکړله، د مسلمانانو د څلورم خليفه حضرت

علي (رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ) سره د هغوئي ملاقات وشو، په رجب شريف کال 110 هجرئ کښې هغوئي د دې دُنيا نه رحلت وفرمائيلو- (اجمال ترجمه اکمال، ص 19) د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د شيطان غلام

حضرت سَيِّدُنا حسن بَصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: چې کله د ټولو نه وړومبے دِرهم او دِينار تيار شول شيطان هغه راواخِستل او په خپل تندي باندې يې کيښودل بيا يې ښکل کړل او اوئې وئيل: چا چې ستا سره محبت وکړو په حقيقت کښې هغه زما غُلام دے- (احياء العلوم، 288/3)

## يوه خوندوره خبره

د حضرت اِمامِ باقر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمان مبارک دے: "ستا د ورور په زړه کښې ستا د پاره څومره محبت دے د دې اندازه ته د دې خبرې نه ولګوه چې د خپل ورور ستا په زړه کښې څومره محبت دے-" (حلية الاولياء، 218/3، رقم: 3764)

د شهزادئ کونين، د حضرت بي بي فاطمه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا د زړه د قرار، د حضرت اِمامِ حُسين رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نمسے او د اِمام زين العابدين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه شهزاده، د سلسلهٔ قادريه رضويه عطاريه پينځم شيخ شريعت او شيخ

طريقت حضرت اِمام باقر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دے- (مسالک السالکين، 213/1)
د هغوئي مزار شريف په جنّتُ البقيع کښې دے- د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د هغوئي په باره کښې د نورو معلوماتو د پاره دا QR کوډ سکين کړئ-

د حضرت اِمامِ جعفر صادِق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمان مبارک دے: څوک چې په شعبانُ المعظم کښې روزانه 700 کرته دُرودِ پاک ولولي، الله پاک به څه فرښتے مقرر کړي کومې چې به دغه درودِ پاک د حضورِ اَکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بارګاه ته رسوي، د هغۀ نه به د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم روحِ مبارک خوشحاله شي، بيا به الله پاک هُغه فرښتو ته حُکم وکړي چې د دې دُرُود لوستونکي د پاره تر قيامته پورې د بخښنې دُعا کوه- (القول البديع، ص 395)

عظيم تابعي بزرګ حضرت اِمام جعفرِ صادق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په 17 ربيع الاوَّل په کال 83 هجرى د ګل شريف په مبارکه ورځ په مدينه منوره کښې دُنيا ته تشريف راوړلو- حضرت امام جعفر صادق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د مور بي بي د طرف نه "صِدِّيقي" او د والد صاحب د اړخ نه "عَلوي او فاطمي" دے- د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د هغوئي پهٔ باره کښې د نورو معلوماتو د پاره دا QR کوډ سکین کړئ۔

د دورود پاک د نورو فضائلو نه د څان خبرولو د پاره د امیرِ اھلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ رساله پهٔ دې QR کوډ سکین کړئ او اوئې لولئ۔

## دنیا ته څۀ حکم دے؟

د اِمام جعفر صادق رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمان مبارک دے: اللّٰه پاک دُنیا ته حکم وکړو: اے دُنیا! څوک چې زما عبادت وکړي تهٔ د هغهٔ خدمت کوه او څوک چې ستا خدمت کوي تهٔ هغهٔ ستړے کړه۔ (فیضانِ امام جعفر صادق، ص 19)

## د بدې خاتمې سبب

د حضرت اِمامِ اعظم رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمان مبارک دے: ”د بدې خاتمې د ټولو نه لوئې سبب ظُلم دے۔“ (الحاوی للفتاویٰ، 138/2 ملخصاً)

د عظیم تابعي بزرګ، د کروړونو حنفیانو اِمام، اِمامِ اعظم ابو حنیفه نوم نعمان بن ثابت دے۔ اِمامِ ابو حنیفه رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ پهٔ 70 هجری کښې د عراق پهٔ مشهور ښار ”کُوفه“ کښې سترګې وغړولې او د 80 کالو پهٔ عمر کښې یې پهٔ شعبانُ المعظم کال 150 هجری کښې د دې فاني دُنیا نه سفر وکړو۔ (نزہۃ القاری، 169/1، 219) نن هم پهٔ بغداد شریف کښې د هغوئي مزار

شريف برکتونه تقسيموي- د الله رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د هغوئي پهٔ باره کښې د نورو معلوماتو د پاره دا QR کوډ سکين کړئ-

## تذکره پهٔ خير سره کوئ

د حضرت سفيان ثَوري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمان مبارک دے: " د خپل وروړ پهٔ غير موجودګۍ کښې د هغهٔ ذِکر داسې کوئ لکه څنګه چې تاسو پهٔ خپله غير موجودګۍ کښې خپل ذِکر خوښوئ-" (تنبيه المغترين، ص 192)

حضرت ابو عبد الله سفيان بن سعيد ثَوري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه امير المؤمِنِين في الحديث وو- پهٔ کال 97 هجرۍ مطابق کال 716ء کښې يې پهٔ کوفه کښې دُنيا ته تشريف راوړلو- پهٔ دِيني علومو او تقوىٰ او پرهيزګارۍ کښې د خپلې زمانې اِمام وو- پهٔ کال 161 هجرۍ مطابق کال 778ء کښې يې د دې دُنيا نه پرده وفرمائيله- د الله رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د هغوئي پهٔ باره کښې د نورو معلوماتو د پاره کتاب الله والوں کی باتيں جلد: 6 ولولئ-

د غیبت کی تباه کاریاں کتاب لوستلو د پاره دا QR کوډ سکین کړئ۔

## د سلو (100) حجونو نه افضل

حضرت اِمامِ مالِک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بیانوي چې حضرت ربیعه وفرمائیل: ”زما په نزد یو کَس ته د نـمونځ مسئلې بیانول په مخ د زمکه د ټول دولت د صدقې کولو نه بهتر دي او د یو کَس دِیني پریشانۍ لرې کول د دُنیا د سلو [100] حجونو نه افضل دي۔ (بستان المحدثین، ص 38)

د کروړونو مالکیانو عظیم پیشوا حضرت اِمامِ مالِک بن اَنس رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دے۔ هغوئي په څلورو مجتهدو اِمامانو کښې یو مشهور اِمام او تبعِ تابعي بزرګ دے۔ د هغوئي ولادت د مشهور قول مطابق په 93 هجرۍ کښې په مدینه منوره کښې وشو او هُم په مدینه منوره کښې هغوئي د دې دُنیا نه تشریف یوړلو۔ د هغوئي مزار شریف د مدینے په مشهوره هدیره جنتُ البقیع کښې دے۔ د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي۔

اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د نورو معلوماتو د پاره د رسالې ”امام مالک کا عشقِ مدینہ“ لوستلو د پاره دا QR کوډ سکین کړئ۔

## د بد نظرۍ نقصان

حضرت عَلا بن زِیاد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د زنانه څادر ته هم مۀ

ګورئ ځکه چې نظر په زړهٔ کښې شهوت پيدا کوي- (الزہد للامام احمد بن حنبل، ص 265، حديث: 1428)

عظيم تابعي بزرګ حضرت علاء بن زياد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د مدينے منورې نه دے- حضرت علاء بن زياد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د عبادت په معامله کښې د ځان ښودلو نه بچ کيدونکے، د دُنيا نه يو اړخ ته، د اخرت د پاره هر وخت تيار اوسيدونکے، د نيک اعمالو ذخيره کوونکے او د تنهايي خوښولو والا وو- هغوئي په کال 194 هجرى کښې د دې دُنيا نه سفر وکړو- (الله والوں کی باتیں، 373/2) د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## رحمت واپس کيږي

حضرت حاتِم اَصم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: چې کله په يو مجلس کښې دا درې خبرې وي نو رحمت واپس کيږي: ﴿1﴾ د دنيا ذِکر ﴿2﴾ زياته خندا او ﴿3﴾ د خلقو غيبت کول- (تنبيه المغترين، ص 194)

حضرت حاتم اصم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د مشهور ولي الله حضرت شقيق بلخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مريد او د حضرت احمد خضرويه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پير وو- حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغوئي په صديقينو کښې شميرې- هغوئي خو به نورو ته ډير عطا کول خو عام طور به يے د چا نه

څۀ نه قبلول، هغوئي پۀ کال 237 هجرئ کښې د دې دُنيا نه تشريف يوړلو-
(تذکرة الاوليا (اردو) ، ص201)

د الله رَبُّ العزّت دې پۀ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پۀ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د انجام خوشحالي

حضرت شيخ سري سقطي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: خلق چې خومره پۀ خپل اولاد باندې شفقت کوي، که دومره شفقت يـې پۀ خپلو ځانونو باندې (هم) کولے (يعني د ګناهونو نه بچ کيدلے، نيکئ يـې کولے) نو هغوئي ته به پۀ خپل انجام (يعني خاتمه) کښې خوشحالي ميلاؤيدله-"

(حلية الاولياء، 122/10، رقم: 14707)

د سلسلۀ عاليه قادريه رضويه عظيم بزرګ، حضرت ابو الحسن سري بن مغلس سقطي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تقريباً پۀ کال 155 هجرئ کښې پۀ بغداد کښې دُنيا ته تشريف راوړلو- حضرت سري سقطي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به پۀ شروع کښې "سَقَط (يعني معمولي او واړه څيزونه)" خرڅول- پۀ دې مناسبت سره هغوئي ته "سَقَطِي" وئيلے کيږي- هغوئي د حضرت معروف کرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مُريد او د حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ماما او استاذ دے- پۀ رَمَضَانُ المُبَارَک کال 253 هجرئ کښې يـې د سحر

د اذان نه پس رحلت وفرمائيلو او مزار مبارک يـې د شُونِيزِيَّه پهٔ هديره کښې دے- (تذکرة الاولياء، 246/1) د الله رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د هغوئي د خوندورو ارشاداتو نه د څان خبرولو د پاره دا QR کوډ سکين کړئ-

## قوّتِ حافظه

حضرت اِمامِ بخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: " ما پهٔ ډيرې توجه او اِستقامت سره لوستل د قوتِ حافظه د پاره ډير فائده منده موندلي دي-"
(فيضانِ امام بخاری، ص 9)

اِمامِ بخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ 13 شوال کال 194 هجری د جُمعې پهٔ ورځ (د اُزبَکِستان پهٔ يو ښار) "بُخارا" کښې سترګې وغړولې- د اِمامِ بخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نوم محمد او کنيت ابو عبدُ الله دے- د هغوئي پهٔ لقبونو کښې دا هم دي: اَمِيرُ المؤمِنِين فِي الحديث، حافظُ الحديث وغيره-

د الله رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د نورو معلوماتو د پاره رساله ”فيضانِ اِمامِ بخاري“ کوړ سکين کړئ۔

## تکليف لرې کوئ

حضرت بِشر حافي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: ” د مسلمان زړۀ ته خوشحالي داخلول، د مظلوم فرياد اوريدل، د هغۀ تکليف لرې کول او د کمزوري مدد کول د 100 نفلي حجونو نه افضل دي۔“ (قوت القلوب، 165/1)

د حضرت بِشر بن حارث بغدادي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه کُنيت ابو نَصر دے۔ د ”حافي“ پۀ لقب باندې مشهور دے۔ پۀ کال 152 هجرى کښې يـې دُنيا ته تشريف راوړلو او پۀ کال 227 هجرى د جُمعې پۀ ورځ د ربيعُ الاول پۀ مياشت کښې يـې پۀ بغداد کښې رحلت وفرمائيلو۔ (152 رحمت بهرى حکايات، ص177، 175) الله پاک د هغوئي پۀ جنازه کښې شرکت کوونکي وبخښل۔ د الله رَبُّ العزّت دې پۀ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پۀ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د هرې بدۍ کُنجي

که غصۀ درشي نو هغه ختمه کړئ، د غصې مطابق مۀ کوئ۔ حضرت جعفر بن محمد رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْهما فرمائي: غصه د هرې بدۍ کُنجي ده۔ (الزواجر، 107/1)

د وخت اِمام حضرت اِمام ابو العباس جعفر بن محمد مستغفري حنفي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په يوه عِلمي کورنۍ کښې په کال 350 هجرۍ کښې سترګي وغړولي او په 29 يا 30 جُمادي الاُولي کال 432 هجرۍ کښې يې په کونَسَف کښې رحلت وفرمائيلو، هغوئي ډير لوئي عالِم، محدث، استاذُ العُلما او صاحبِ تصانيف دے- ډيرو علمائے کرامو د هغوئي نه عِلمِ دِين حاصل کړو- ( الفوائد البهيه ، ص 74، رقم:104) د الله رَبُّ العزّت دي په هغوئي باندي رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دي زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د بد صحبت نقصان

حضرت داتا ګنج بخش رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: " د بدو خلقو په صحبت کښې پاتې کيدونکے د نفس په شرارتونو کښې اخته کيږي، که په بنده کښې نيکي او خير وي نو د نيکانو په صحبت کښې به پاتي کيدل خوښوي-" (فيضانِ داتا على ہجويرى، ص 70)

حضرت داتا علي هجويري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه کم او زيات په کال 400 هجرۍ کښې په غزني کښې دُنيا ته تشريف راوړلو، د حضرت داتا ګنج بخش رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه کُنيت ابو الحسن، نوم علي او لقب داتا ګنج بخش دے- د داتا حضور شجرۀ طريقت په 9 واسطو سره د مسلمانانو څلورم خليفه، حضرت علي المرتضیٰ شيرِ خُدا رَضِىَ اللهُ عَـنْهُ ته رسي- د الله رَبُّ

العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د هغوئي د سيرت لوستلو د پاره دا QR کوډ سکين کړئ۔

## شبِ براءت د شفاعت شپه

اِمامِ غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: شب براءت ته د شفاعت شپه هم وئيلے کيږي، ځکه چې پهٔ دې کښې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل اُمَّت د شفاعت درخواست وکړو نو الله پاک د ټول اُمَّت شفاعت منظور کړو خو هغه کَس کوم چې د الله پاک د رحمت نه د اوښ پهٔ شان لرې وتښتيدو او بيا بيا يـې ګناهونه وکړل او هُم پخپله ډير لرې لاړو۔ (مکاشفة القلوب، ص 303 ملخصاً)

د اِمامِ غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نوم "محمد" وو۔ هغوئي پهٔ کال 450 هجرى مطابق پهٔ کال 1058ء کښې دُنيا ته تشريف راوړلو۔ (اتحاف السادة المتقين،9/1) د وصال شريف پهٔ وخت بخاري شريف د اِمامِ غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ سينه باندې وو هغوئي بيا بيا دا مختصر او جامع ترين نصيحت شاګردانو ته وفرمائيلو: عَلَيْكَ بِالْاِخْلَاصِ يعني اخلاص اختيار کړئ، د دې فرمائيلو سره هغوئي پهٔ 14 جمادي الاخري کال 505 هجرى

کښې رحلت وفرمائيلو- (مراة الجنان، 141/3) د الله رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د ټولو نيکو اصل

اِمامِ غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: لکه څنګه چې د دُنيا محبت د ټولو ګناهونو جرړه ده هم داسې د دُنيا نه نفرت د ټولو نيکو اصلي (جرړه) ده- (التيسير بشرح جامع الصغير، 492/1)

## پهٔ مصيبت کښې مهٔ اخته کيږئ

اِمامِ غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: وئيلے شوي دي چې: "ژبه ازاده مهٔ پريږدئ ګني دا به ستاسو عزت خراب کړي-" او دا هم وئيلے شوي دي چې " د ژبې حفاظت کوئ، مهٔ وايئ مهٔ پهٔ مصيبت کښې اخته کيږئ، څکه چې مصيبت ژبې ته حواله کړے شوے دے-" (منهاج العابدين، ص 66)

## خوشحالي هم مصيبت

د سيد احمد کبير رِفاعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمان مبارک دے: " خومره خوشحاليدونکي داسې دي د کومو خوشحالي چې د هغوئي د پاره مصيبت جوړيږي-" (فيضانِ سيد احمد کبير رفاعی، ص 28)

د هغوئي نوم احمد دے- د نيکه بابا "رِفاعه" پهٔ مناسبت سره ورته رِفاعي

وئیلے شي- هغوئي د شهیدانو د سردار، د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نمسي حضرت اِمامِ حُسین رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ اولاد کښې دے، د هغوئي کُنیت ابو العباس او لقب مُحيُ الدِّین دے- حضرت کبیر رِفاعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ 5 رجب شریف کال 512 هجرۍ مطابق پهٔ وړومبي نومبر کال 1118ء کښې دُنیا ته تشریف راوړلو- د وفات شریف پهٔ وخت یـې پهٔ خُله مبارکه باندې دا جاري وه: اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ- د الله رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د هغوئي د سیرت د لوستلو د پاره دا QR کوډ سکین کړئ-

## د میلاد کولو غوره فائده

اِمام اِبنِ جَوزِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: پهٔ مِیلاد کولو کښې د شیطان ذِلّت او د ایمان والؤ تَقوِیَّت (یعني مضبوطتیا) ده- (سبل الهدى والرشاد، 363/1)

اِمام ابو الفرج عبد الرحمان بن علي جوزي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ کال 511 هجرۍ کښې سترګې وغړولې- پهٔ خپله زمانه کښې د وعظ او خطبو اِمام وو، د یو تحقیق مطابق د اِبن جوزي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه روزانه د 40 صفحو د لیکلو معمول وو- هغوئي حافظ الحدیث وو- (یو لاکھ حدیثونه مبارک د سند سره یادولو والا حافظ الحدیث وي-) پهٔ لکونو خلقو د هغوئي پهٔ لاس باندې توبه کړله- پهٔ 13 رَمَضَانُ الْمُبَارَک پهٔ کال 597 هجرۍ د جُمعې

پۀ شپه هغوئي رحلت وفرمائيلو، پۀ بغداد شريف کښې د حضرت اِمام احمد بن حنبل رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د مزار مبارک پۀ خوا کښې هغوئي خاورو ته وسپارلے شو- (آنسوؤں کا دریا، ص 15، 16 ملخصاً) د اللّٰه رَبُّ العزّت دې پۀ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پۀ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## قرآنِ کريم ته د کتلو فائدے

د خواجه غريب نواز رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمان مبارک دے: قرآنِ کريم ته د کتلو سره نظر تيزيږي، د سترګو د درد نه حفاظت کيږي او سترګے نه وچيږي- (دليل العارفين اردو از ہشت بہشت، ص 80)

خواجه غريب نواز رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه پۀ 14 رَجَبُ المُرَجَّب شريف کال 537ھ مطابق 1142ء دُنيا ته تشريف راوړلو او هُم د رَجَبُ المُرَجَّب شريف د مياشتې پۀ 6 تاريخ کال 633 هجرۍ کښې يې رحلت وفرمائيلو- هغوئي حسني حُسيني سيّد دے- د خواجه غريب نواز رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه مور بي بي د حضرت شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د ترۀ لور ده، د دې رشتې پۀ لحاظ سره حضورِ غوثِ پاک رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د خواجه غريب نواز رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ماما کيږي- د اللّٰه رَبُّ العزّت دې پۀ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پۀ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د هغوئي د سیرت د لوستلو د پاره دا QR کوډ سکین کړئ۔

د نـمونځ په باره کښې د نورو معلوماتو د پاره دا QR کوډ سکین کړئ۔

## د بابا فرید رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه علیه فرامین

په خپله ژبه او لاسونو باندې خوک مه تنګوئ، مه چا ته رَدې بدې وایئ، خپل ظاهر محفوظ ساتئ، د سترګو او د ژبې حفاظت کوئ او دا د الله پاک په یاد کښې مصروفې ساتئ، د الله پاک یاد په زړهٔ کښې دِیره کړئ، په ذِکر او تلاوت باندې همیشه خپله ژبه لمده ساتئ او د شیطاني وسوسو نه خپله ژبه بچ ساتئ۔ (سیرتِ بابا فرید، ص 14)

د حضرت بابا فرید رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه نوم "مسعود" دے او د "فرید الدین ګنج شکر" په لقب باندې مشهور دے، د حضرت بابا فرید رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه سلسلهٔ نسب د مسلمانانو دویم خلیفه، حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْهُ ته رسي۔ حضرت بابا فرید رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په 569 یا په 571 هجرۍ کښې دُنیا ته تشریف راوړلو۔ په اخرو ورځو کښې به د بیمارۍ په حالت کښې هم بابا فرید رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه نـمونځ د جَمعې سره کولو۔ په نـمونځ کښې یـې د سجدې په حالت کښې رحلت وفرمائیلو۔ د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي۔

اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د هغوئي د سیرت لوستلو د پاره دا QR کوډ سکین کړئ۔

## د ”یو رحمت“ برکت

شیخ ابُو عطاءُ الله رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه فرمائي: الله کریم چې په چا باندې یو رحمت نازِل کړي، هغه (رحمت) به د هغهٔ د دُنیا او د اخرت د ټولو معاملو د پاره کافي وي، نو د (درود شریف د لوستلو په وجه) چې په چا باندې لس (10) رحمتونه نازل شي د هغهٔ به څهٔ حال وي! (مطالع المسرات ، ص 30)

د هغوئي نوم محمد بن عبد الله بن محمد ابو عطاءُ الله الرشیدي شافعي دے۔ هغوئي د رَجَبُ الْمُرَجَّب په میاشت کښې په کال 767 هجرى کښې په قاهره کښې دُنیا ته تشریف راوړلو۔ هغوئي حافظِ قرآن، په کثرت سره د قرآنِ کریم تلاوت کوونکے، د ښو اخلاقو نمونه، سخي، بهترین محدث، فقیه او خطیب وو۔ هغوئي په 11 ربیع الاوّل د جُمعې په شپه په کال 854 هجرى کښې د 87 کالو په عمر کښې په قاهِره کښې رحلت وفرمائیلو۔ (الضوء اللامع، 101/8 ملتقطاً) د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي۔

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د رساله درود شریف د برکتونو لوستلو د پاره دا QR کوډ سکین کړئ۔

## د رِزق تقسیم

د حضرت علي خواص رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه فرمان مبارک دے: مادي (یعني

محسوص کيدونکے) رزق کوم چې د بدن خوراک وي هغه د سحر کيدو نه تر د نمر يوه نيزه راختو پورې الله پاک تقسيموي او د روح خوراک يعني معنوي رزق کوم چې نه ښکاري هغهٔ د مازديګر د نـمونځ نه پس د نمر پريوتو پورې تقسيموي- (لواقح الانوار القدسيه، ص 67)

حضرت سيدنا علي خواص رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به د قرآنِ کريم او د حديث شريف پهٔ معنو داسې ښې خبرې کولې چې عالمان به ورته حيرانيدل- هغوئي د ښه طبيعت مالک هم وو د کوم څيز د استعمالولو چې به يـې ارشاد فرمائيلو پهٔ هغې کښې به شِفا وه- د هرې جُمعې پهٔ ورځ باندې به يـې د الله پاک د رضا د پاره جوماتونه صفا کول- د نورو خلقو مصيبتونه به يـې پهٔ خپل سر باندې اخستل- (الطبقات الکبرى للشعرانى، 2/ 205 تا 209) د الله رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ولادت د ځائے برکت

حضرت علّامه قُطبُ الدِّين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: " د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم (پهٔ مکه مکرمه کښې) د ولادت پهٔ ځائے کښې دُعا قبليږي-" (بلد الامين، ص 201 )

د هغوئي نوم محمد بن احمد بن محمد نَهرَوالي او لقب يـې قطب الدِّين

دے- هغوئي حنفي قادري دے- پۀ کال 917 هجرئ کښې يې پۀ مکه مکرمه کښې دُنيا ته تشريف راوړلو- مستند عالِم، مفسر او محدث او مصنف او محقق وو- د يو قول مطابق هغوئي پۀ کال 988 هجرئ کښې وصال وفرمائيلو- د الله رَبُّ العزّت دې پۀ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پۀ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د ولادت د ځائے مبارک پۀ باره کښې د نورو معلوماتو د پاره دا QR کوډ سکين کړئ-

## د جشنِ ولادت صله

حضرت شيخ عبدُ الحق مُحدِّثِ دِهلوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د مدينے د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ولادت پۀ شپه د خوشحالئ کوونکو جزا دا ده چې الله پاک به هغوئي پۀ خپل فضل او کرم سره جَنّاتُ النعيم ته داخل کړي- (ماثبت بالسنة، ص 102)

د حضرت علّامه شيخ عبدُ الحق مُحَدِّثِ دهلوي قادري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ولادت پۀ کال 958 هجرئ کښې پۀ دهلي (هندوستان) کښې وشو او هم هلته پۀ 21 ربيعُ الاوّل کال 1052 هجرئ کښې يې رحلت وفرمائيلو، مزار مبارک يې پۀ خانقاهِ قادريه دهلي هندوستان کښې دے- هغوئي حافظِ قرآن، اِمامُ المُحَدِّثِين فِي الهند او د ډيرو کتابونو مصنف او شارحِ

احاديث دے- ( ماہنامہ فيضان مدينہ، ربيع الاول 1440، ص 48) د الله رَبُّ العزّت دې پۀ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پۀ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## ايمان تازه کوونکې خبره

حضرت شيخ عبدُ الحق مُحدِّثِ دهلوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ” پۀ کوم مسلمان کښې چې د عِلمِ دِين حرص او د دې شوق وي د هغۀ خاتمه به پۀ ايمان باندې کيږي-“ (لمعات التنقيح ، 1/559-560)

## د الله پاک د ناراضګۍ نخښې

حضرت عبدُ الله علوي شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ”د الله پاک د رحمت د نظر نه د محرومۍ او د ناراضګۍ نخښه دا ده چې بنده پۀ ګناهونو کښې اخته شي-“ (رِسَالَةُ الْمُذَاکَرَهْ مَعَ الْاِخْوَانِ الْمُحِبِّيْنَ مِنْ اَہْلِ الْخَيْرِ وَالدِّيْنْ، مترجم، ص 43)

حضرت حبيب عبد الله علوي شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ 5 صفر شريف کال 1044 هجرۍ کښې دُنيا ته تشريف راوړلو، هم د ماشومتوب نه د نظر نه محرومه وو خو الله پاک ورته ”نورِ بصيرت“ عطا کړو- د کل پۀ ورځِ پۀ 7 ذُوالقعدة الحرام کال 1132 هجرۍ کښې يې د دې فاني دُنيا نه سفر وکړو- د هغوئي مزار شريف د ”تَرِيم“ (يمن شريف) پۀ هديره

کښې دے- د الله رَبُّ العزّت دې پۀ هغوئې باندې رَحمت وي او د هغوئې پۀ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د هغوئې د نورو فرامينو د پاره دا QR کوډ سکين کړئ-

## شفاعت به يې نصيب شي

حضرت شاه فضلِ رسول بَدايوني رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: " څوک چې د شعبانُ المعظم روژې دې د پاره ونيسي چې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوښې وي نو د هغۀ به د حضورِ پاک صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شفاعت نصيب کيږي-" (المعتقد المنتقد، ص 129)

حضرت علامه فضلِ رسول قادري بَدايُوني حنفي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه عالمِ کبير، قائدِ اهلِسُنَّت، د آستانۀ قادريه د سترګو تور او صاحبِ تصنيف دے، پۀ کال 1213 هجرى کښې يې دُنيا ته تشريف راوړلو او پۀ 2 جُمادي الاُخرىٰ کال 1289 هجرى کښې يې رحلت وفرمائيلو- مزار مبارک يې پۀ بدايون کښې مشهور دے- اَلْمُعْتَقَد وَالْمُنْتَقَد، اَلْبَوَارِقُ الْمُحَمَّدِيَّه، سَيْفُ الْجَبَّار او فَصْلُ الْخِطَاب وغيره يې يادګار کتابونه دي- (اکمل التاريخ، ص 64، 270 تا 286) د الله رَبُّ العزّت دې پۀ هغوئې باندې رَحمت وي او د هغوئې پۀ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د مزار مبارک رسالي " آقا کا مهینه" لوستلو د پاره دا QR کوډ سکین کړئ۔

## د خُدائے دښمن څوک؟

د صَدرُ الاَفاضِل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمان مبارک دے: " کوم بد قِسمته چې د صحابۀ کرامو (عَلیهمُ الرِّضوَان) په شان کښې د بے ادبۍ سره خُله وخپړي هغۀ د خدائے او د رسول دښمن دے، مسلمان دې د داسې ګس سره نه کښيني۔" (سوانحِ کربلا، ص 31)

حضرت علّامه مولانا سیِّد محمد نعیم الدین مُراد آبادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په 21 صفرُ المُظَفَّر کال 1300 هجرئ مطابق په وړومبۍ جنورئ کال 1883ء د ګل په ورځ د "هندوستان" په "مُراد آباد" ښار کښې سترګے وغړولې۔ په ناسته په ولاړه باندې به يې حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ نِعْمَ الْمَوْلٰى وَنِعْمَ النَّصِيْرُ لوستل۔ د وفات شریف په وخت يې کلمۀ پاک لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ الله لوستل شروع کړل۔ په 19 ذوالحج شریف کال 1367 هجرئ د دې دُنيا نه رخصت شو په جامعه نعیمیه (مراد آباد، هندوستان) کښې د هغوئي مزار مبارک دے۔ د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د هغوئي د سیرت لوستلو د پاره دا QR کوډ سکین کړئ۔

## د دِيني کتابونو اَدب

محدث اعظم پاکستان مولانا سردار احمد چشتي قادري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ” د قرآن او حديث او د دِيني کتابونو په باره کښې دا نه دي وئيل پکار چې هلته پراته دي بلکې داسې وئيل پکار دي چې هلته مو کيښودې دي۔“ (فيضان محدث اعظم، ص 45 )

محدث اعظم پاکستان حضرت مولانا محمد سردار احمد چشتي قادري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په 29 جمادی الاخریٰ کال 1321 هجری مطابق 22 ستمبر کال 1903ء کښې دُنيا ته تشريف راوړلو۔ کم او زيات 30 کاله يې د درس او تدريس سلسله وفرمائيله او د شعبان شريف په وړومبي تاريخ کال 1382 هجری مطابق 29 دسمبر کال 1962ء د خالي په شپه شل منټه کم په دوه بجې په دې انداز کښې د دُنيا نه رخصت شو چې د هرې يوې ساه سره يې د ” الله هُو، الله هُو“ اوازونه راتلل۔ د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د نورو معلوماتو د پاره کتاب ”فيضانِ محدثِ اعظم پاکستان“ ولولئ۔

## په څناورو باندې ظُلم

مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: په څناورو باندې ظُلم

کول پهٔ مسلمانانو باندې د ظُلم کولو نه هم سخت دي- (مراٰة المناجيح، 86/8 ملخصاً)

(مسلمان پهٔ لاس باندې هم د ظُلم بدل اخستے شي، کیس هم کولے شي خو مظلومه څناور چا ته فریاد وکړي؟)

حضرت علامه مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ 4 جمادی الاولیٰ کال 1314 هجری مطابق پهٔ وړومبي مارچ کال 1894ء د صبح صادق پهٔ وخت دنیا ته تشریف راوړلو- پهٔ 3 رَمَضَانُ المُبَارَک کال 1391 هجری مطابق 24 اکتوبر کال 1971ء وفات شو، د وفات کیدو نه پس د هغوئي مخ مبارک د ګلاب پهٔ شان تازه وو او دا ګمان کړان وو چې هغوئي وفات شوي دي- د هغوئي مزار مبارک پهٔ ګجرات (پنجاب، پاکستان) کښې دے- د الله رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د نورو معلوماتو د پاره کتاب "فیضانِ مفتي احمد یار خان نعیمي" ولولئ-

## کتاب کله فائده ورکوي؟

د حافِظِ مِلَّت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمان مبارک دے: (دیني) کتاب (پهٔ لاس کښې د نیولو پهٔ ځائے) که د سینې سره ولګولے شي نو سینې ته به کوز شي او چې کله کتاب د سینې نه لرې ساتلے شي نو کتاب هم د سینې نه لرې کیږي- (شانِ حافظِ ملت، ص 6)

حافِظِ مِلّت حضرت علامه مولانا عبد العزيز مُحَدِّث مراد آبادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ کال 1312 هجرى مطابق کال 1894ء پۀ اُتر پردېش هندوستان کښې د ګل پۀ ورځ سحر دُنیا ته تشریف راوړلو، د قرآنِ پاک حفظ يې دومره مضبوط وو چې هغوئي د ”لوئي حافظ جي“ پۀ لقب باندې مشهور وو۔ پۀ خپل هر يو عمل کښې به يې د سُنَّتو ډېر خيال ساتلو۔ د جمادي الاخري پۀ ورومبي تاريخ کال 1396 هجرى مطابق 31 مئي کال 1976ء د شپې پينځه منټه کم دولس بجې هغوئي رحلت وفرمائيلو، د هغوئي مزار مبارک پۀ جامعةُ الاشرفيه مُبارک پور کښې دے۔ د الله رَبُّ العزّت دې پۀ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پۀ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي۔

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیِّیْن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د هغوئي د سيرت لوستلو د پاره دا QR کوډ سکين کړئ۔

## د دولت مَستي

د قُطبِ مدينه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمان مبارک دے: ” د دولت د مستئ نه د الله پاک پناه غواړئ، د دې نه ډېر پس هوش راځي۔“

(سیدی قطبِ مدینہ، ص 18)

سيِّدي قُطبِ مدينه ضياء الدين احمد مَدَني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ کال 1294 هجرى، 1877ء کښې د پاکستان د سيالکوټ ضلعې پۀ ”کلاس

والا" علاقه کښې دُنيا ته تشريف راوړلو- هغوئي د مسلمانانو د وړومبي خليفه، حضرت صِدّيقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَـنْهُ په اولاد کښې دے- په 4 ذُو الحج شريف کال 1401 هجرى (2-10-1981) د جُمعې په ورځ د مسجدِ نبوي شريف مُؤَذِّن " اللّٰهُ اکبر، اللّٰهُ اکبر" ووئيل او سيّدي قُطبِ مدينه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه کلمه شريف ولوستله او د دې فاني دُنيا نه يـې سفر وکړو- په جنَّتُ البقيع کښې د حضرت بي بي فاطـمةُ الـزَّهرا رَضِیَ اللّٰہُ عَـنْها د مزار مبارک نه صرف په دوه ګزه فاصله باندې خاورو ته وسپارلے شو- د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

د هغوئي د سيرت لوستلو د پاره دا QR کوډ سکين کړئ-

## د سُنَّتو پيروي

(د يو بزرګ قول دے:) زما په نزد د سُنَّتو پيروي د زر کاله (نفلي) عبادت نه بهتره ده- (فيضانِ رمضان ، ص 106)

## د مرګ په وخت به يـې کلمه نه نصيب کيږي

مَشائخِ کِرام رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم فرمائي: " کوم کَس چې د مسواک عادت لري د مرګ په وخت به يـې کلمه نصيب کيږي او څوک چې اَفيون خوري د مرګ په وخت به د هغهٔ کلمه نه نصيب کيږي-" (بهارِ شريعت، 288/1)

## د راروانې هفتې رساله





فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ کراچۍ

UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net